# REFUGEE FAMILY SUPPORT CATEGORY

## مهاجرينو کورنيو د ملاتړ کټګوري

## RESIDENCY APPLICATION

## د استوګنې غوښتنليک

د مهاجرينو کورنيو د ملاتړ کټګورۍ د غوښتنليک بهير دوه مرحلې لري. لومړۍ پې دا ده ترڅو تاسو خپل ځان د سپانسر يا تمويلوونکي په توګه راجستر کړۍ. که ومنل شوۍ، تاسو ته به ستاسو کورنۍ ته بلنه درکړل شي چې د استوګنې لپاره غوښتنه وکړئ. که تاسو تر اوسه پورې د نوم ليکنې بهير نه وي بشپړ کړی، مهرباني وکړئ مونږ څخه د سپانسر/تمويلوونکي نوم ثبتونې لارښود يوه کاپي وغواړئ.

د استوګنې غوښتنليک دويم ګام ده. دا د بهير تر ټولو اوږده برخه ده کوم کې چې د کډوالو اداره د خپله ارزونه ترسره کوي او پريکړه کوي ترڅو ستاسو کورنۍ ته استوګنه ورکول شي که نه.

ستاسو کورنۍ د بلنليک له نېټې څخه د استوګنې لپاره د غوښتنليک لېږلو ۱۲ مياشتې وخت لري.

| |
|---|
| **مهم: د نيوزيلينډ د کډوالو اداره به د ۱۲ مياشتو موده ونه غزوي.**<br>تاسو بايد د استوګنې غوښتنليک بشپړ او د کډوالو ادارې ته له ۱۲ مياشتنۍ مودې تېرېدو څخه مخکې لېږلی اوسي.<br>په ځانګړې توګه که چېرې ستاسو غوښتنليک د (دويمې درجې/ ټيير) وي. که چېرې مو وروستۍ نېټه له لاسه ورکړه، له هغې وروسته بايد کلونه په تمه شئ چې د دويمې درجې بهير بيا پيل او وکولای شئ د تمويلوونکي يا سپانسر په توګه ځان راجستر کړۍ. |

د وخت موده

د نيوزيلينډ د کډوالو اداره د مهاجرينو د سهمې څانګه يا (آر کيو بې) اوسمهال د مهاجرو کورنيو د ملاتړ کټګورۍ د استوګنې غوښتنليکونو بهير پر مخ وړي.

دا ډېر وخت نيسي چې غوښتنليک د قضيې آمر ته وسپارل شي ترڅو کار او پريکړه پې وشي.

کولای شۍ د اوسنيو پريکړو نيولو موده آنلاين دلته وګورئ: فيس، د پريکړو موده او چېرې اپلای کولی شۍ، د نيوزيلينډ د کډوالو اداره. که له مونږ وغواړئ مونږ پې هم ويبسايټ کې درته کتلی شو.

دا اړينه چې تاسو سره د اړيکې نيولو مالومات سم وي ترڅو د کډوالو اداره وکولای شي ستاسو د غوښتنليک ارزونې په وخت کې تاسو سره اړيکه ونيسي.

**د غوښتنليک لېږل**

د غوښتنليک فورمه او ورسره مل اسناد په لاندې پته لېږلی شۍ:

Immigration NZ
20 Fairfax Avenue
Penrose
Auckland 1061

## KEY WORDS

## کليدي کلمې

**ملاتړ/سپانسرشيپ**

تاسو ضامن يا سپانسر ياست. تاسې د ضامن يا سپانسر په توګه ځان ثبتوۍ ترڅو خپله کورنۍ د( کډوالو کورنيو د ملاتړ کټګورۍ د ضامن ثبتولو فورمې) په ډکولو سره نوزيلينډ ته راولۍ. د تاييد په صورت کې، تاسو ته بلنه درلېږل کيږي چې (خپلې کورنۍ لپاره) د استوګنې غوښتنه وکړئ.

**اصل/اساسي غوښتونکی**

Community Law Waikato Trust 2023

اصل غوښتونکی هغه کس ده چې تاسو یې سپانسر کوی. دا هغه کس ده چې د استوګنې غوښتنلیک ده پورې اړه لري. د دوی د ژوند شریک/شریکه او اړوند اولادونه یې چې دې غوښتنلیک کې ځای شوي ورته **ثانوي/دویمه درجه غوښتونکي** ویل کیږي.

**د ژوند شریک**

په غوښتنلیک کې د شاملېدو لپاره، اصلی غوښتونکې او د دوی د ژوند شریک/شریکه باید د غوښتنلیک ارزولو په موده کې د ۱۲ میاشتو یا ډېرې مودې لپاره په ریښتیني او با ثباته شراکت کې یوځای واوسیږي. دوی باید ۱۸ کاله یا له دې زیات عمر ولري، او نږدې خپلوان نه وي.

**اړوند ماشوم**

اړوندو ماشومانو کې لاندني شامل دي:

اول: بیولوژیکي /خپل ماشومان،

دویم: فرزندي ماشومان – یا د قانوني اختیار له لارې، یا په یوې دودیزې لارې چې ماشوم فرزندي اخیستل کیږي که چېرې یې عمر د اخیستو په وخت کې ۱۱ کاله یا له دې کم وو (د بېلګې په توګه د خورزې، خوریی، وراره یا خپلو کوچنیو ورونو خویندو مسولیت که یتیم وي په غاړه منل)

دریم: ناسکه ماشومان

د اصلي غوښتونکي ماشومان چې عمرونه یې له ۲۵ کالو کم وي د استوګنې غوښتنلیک سپارلو په وخت کې په فورمه کې شاملېدی شي. دوی باید همداراز مجرد پاتې شي، خپل یې نه وي، او د استوګنې غوښتنلیک په ټوله موده کې له مالي اړخه اصل غوښتونکي پورې تکیه ولري.

**تصدیق شوي کاپیانې**

د اسنادو تصدیق شوي کاپیانې هغه کاپیانې وي چې د یو رسمی وکیل، جی پی یا د مشترکو ګټو هیواد یو استازی له اړخه امضا او مهر پرې لګېدلی وي (د بېلګې په توګه د نیوزیلینډ سفارت/عالی کمیسیون) چې ووایی دا سند اصلي او د سند ریښتینې کاپی ده.

**اصلی سند**

اصلی سند هغه ترلاسه شوی حقیقی سند ده چې په قلم امضا او مهر شوی وي یا نور داسې ضمیمه شوي اسناد چې د یو رسمي سند په توګه پېژندل شوی وي. په دې کې فوتوکاپی یا سکین شامل نه دي.

**قانوني اقرار خط**

قانونی اعلامیه یو لیکل شوی سند ده چې باید د جی پی، وکیل، عامه خدمتونو رسمی جواز لرونکي وکیل، د مشترکو هېوادونو استازي (د بېلګې په ډول د نیوزیلینډ سفارت/عالي کمیسیون) په مخ کې امضا شوی اوسي.

په دغه قانوني اقرار خط کې باید هغه څه بیان کړئ چې تاسو یې اقرار کوی او په پای کې باید یادونه وشي چې:

زه په دې قانوني اقرار نامې په کلکه او په پوره وجدان  باور لرم چې او د حلفونو او اعلامیو د ۱۹۵۷ کال قانون څخه پیروي کوم.

## د اسنادو لست

هر هغه سند چې تاسو یې د کډوالو ادارې ته لېږی باید اصلي او تصدیق شوې کاپي واوسي.

د تصدیق شویو نقلونو او اصلي اسنادو مانا لپاره دویمه پاڼه وګورئ.

که کوم سند مو په انګلیسي ژبه نه وي، دا باید د یو رسمي ژباړونکي لخوا وژباړل شي. تاسو او ستاسو کورنۍ دغه اسناد په خپله نه شي ژباړلی. دغه اسناد مو باید د یو پېژندل شوي او معتبر ژباړې مرکز له لوري وژباړل شي.

**لازمي اسناد**

لاندې هغه څه دي چې د کډوالو اداره یې (لازمي اسناد بولي). دا لږ تر لږه اسناد دي چې د نیوزیلینډ د کډوالو اداره یې د غوښتنلیک ثبتولو لپاره اړین بولي. د نیوزیلینډ مهاجرو اداره به د دې مهمو اسنادو پرته ستاسو غوښتنلیک ونه مني.

| | لازمي اسناد | یادونه/ نوټ |
|---|---|---|
| | د استوګنې غوښتنلیک فورم بشپړ او امضا شوی (INZ 1000) | باید د دغو کسانو له لوري لاسلیک شوی اوسي:<br>اصلی ضامن،<br>ښځې یا خاوند له خوا،<br>هر هغه اولاد چې عمر یې د ۱۸ کالو لوړ وي، |

| | | |
|---|---|---|
| | | په انګلیسی ژبه باید بشپړ شوی اوسي،<br>د کډوالو اداره اصلی سند ته اړتیا لري. کاپی یا سکین نه وي.<br>د کډوالو اداره ځیني وختونه سکین کاپیاني مني خو یواځې په هغه صورت کې چې دوی ته ژر تر ژره اصلی سند ولیږل شي. |
| | په غوښتنلیک کې د شاملو کسانو ۲ قطعې د پاسپورټ عکس/انځور | په غوښتنلیک کې د هر کس یوه قطعه عکس (اصلی غوښتونکي، ښځې/خاوند او ماشومانو) باید له فورمې سره ضمیمه شي.<br>ستاسو کورنی کولای شي د خپل مبایل له لارې د هر کس یوه قطعه د پاسپورټ اندازه عکس واخلي او تاسو ته یې د چاپ لپاره راولیږي. |
| | په غوښتنلیک کې د شاملو کسانو پیژند پاڼه یا پاسپورټ | تاسو کولای شی چې تصدیق شوې کاپیاني ولیږئ. د تصویق شویو کاپیانو مانا لپاره دویمه پاڼه وګورئ.<br>که چیرې د افغانستان پاسپورټ نه لری، د رالیږلو اړتیا یې نشتته. اړینه ده چې د پیژند کوم بل ډول سند ولیږئ (لاندې ولولئ) |
| | په غوښتنلیک کې د شاملو کسانو هر یو لپاره تذکره | تاسو کولای شی چې تصدیق شوې کاپیاني ولیږئ. د تصویق شویو کاپیانو مانا لپاره دویمه پاڼه وګورئ.<br><br>تذکره باید د یو رسمی ژباړنکي لخوا وژباړل شي. باید له غوښتنلیک سره مو د ژباړل شوې تذکرې یوه تصدیق شوې کاپی ولیږئ.<br><br>که په غوښتنلیک کې کوم یو کس تذکره، پیژند کارت یا پاسبورټ ونلري، اړینه ده چې دوی رسمی اقرارخط له دغو مالوماتو سره وړاندې کړي:<br>د دوی پوره نوم او،<br>د زیږون نیټه،<br>د زیږیدو ځای،<br>د مور او پلار نوم او د هغوی دنده.<br><br>هیله کوو چې د رسمی اقرار خط لپاره له (کمیونیتی لا وایکاتو) سره په اړیکه کې شئ. |
| | د پولیسو سند (رسمی اقرار خط) | اوسمهال له افغانستان څخه د پولیسو صند اخیستل شوني نه دي. په ځای یې هر څوک چې ۱۷ کلن یا لوړ وي اړتیا لري چې رسمی اقرار خط بشپړ کړي. په رسمی اقرار خې کې باید یادونه وشي چې ولې دوی له افغانستان څخه د پولیسو سند نه شي ترلاسه کولی. د اقرارخط کارولو لپاره له کمیونیټی لا وایکاتو سره اووینئ.<br><br>تاسو باید هغو هېوادونو کې چې ۱۲ میاشتې یا زیات د تېرو لسو کلونو موده کې ژوند کړی وي د پولیسو سندونه ضمیمه کړئ. د بېلګې په ډول، تاسو ښایی له ایران او پاکستان څخه هم د پولیسو سندونو ته اړتیا ولرئ. د پولیسو سندونه باید له ۶ میاشتو زاړه نه وي. |

| | | |
|---|---|---|
| | د ضامن پاسپورټ یا د هویت سند د استوګنې ویزې ټاپه/لیبل سره، یا د تابعیت سند. | دا کېدای شي چې تصدیق شوې کاپي هم واوسي. د تصدیق شوې کاپي مانا لپاره دویمه پاڼه وګورئ. |
| | د نیوزیلینډ کډوالو اداري له خوا خط چې د ضامن ثبتول پکې تایید شوی اوسي. | دا کاپي هم کېدای شي. |

د اضافي مالوماتو فورمه INZ1200
د دې فورمې سپارل لازمي یا اړین نه دي، خو ژر به یې اړتیا پیدا شي. دا ښه خبره ده چې همدا اوس یې بشپړ کړئ او د استوګنې فورمې له اسنادو سره یوځای وسپارئ ترڅو د وخت او لېږلو لګښت سره هم مخ نه شئ. باید ډاډه شئ چې د دې فورمې او د استوګنې فورمې مالومات مو سره ټول یوشان وي. باید په دې هم ډاډه شئ چې په فورمه کې ټولو پوښتنو ته ځوابونه ورکړئ.

| | |
|---|---|
| د اضافي مالوماتو بشپړول، بشپړ او لاسلیک (INZ 1200) | لاندې کسانو لپاره اړینه ده:<br>اصلي غوښتونکي،<br>ښځې/خاوند، او<br>په فورمه کې هر هر ۱۷ کلن او پورته اولاد چې تاسو پورې تړلی وي |

**اضافي اسناد چې وروسته به اړتیا ورته پیدا کړي**

کله چې تاسو ته یو کیس افسر ځانګړی شو، د نیوزیلینډ کډوالو اداره به له تاسو د نورو مالوماتو او اسنادو غوښتنه وکړي.

لاندې یې ځینې بېلګې د مالوماتو دی کومو ته چې به د دوی اړتیا پیدا شي. ښه خبره ده چې د راټولونکي لپاره سر له اوسه دغه مالومات ورته راټول کړئ.

| | مدارک لازم | نوت |
|---|---|---|
| | د اصلي غوښتونکي او د دوی د ښځې/خاوند ترمنځ د اړیکو او یوځای ژوند کولو ثبوت. د بېلګې په ډول:<br><br>د واده سند ( که تاسو واده کړی وی)<br>د هستوګنې اسناد، د بېلګې په توګه د کور کرایې تړون، یا د کور مالک لخوا لیک چې تاسو سره یوځای ژوند کوئ، د کلي مشر، یا د هغه چا لخوا | د اړیکو د ثابتولو مدارک یا اسناد کېدای شي چې تصدیق شوی کاپیاني هم واوسي.<br>د تصدیق شویو کاپیانو مانا لپاره دویمه پاڼه درسره وګورئ.<br><br>د یوځای پاتې کېدو یا ښځې/خاوند د شواهدو لپاره آنلاین کتنه کولی شئ:<br>پارټنرشیپ/امیګریشن نیوزیلینډ |

| | | |
|---|---|---|
| | یو لیک چې تصدیق وکړي چې تاسو د ښځې او خاوند په توګه سره یوځای ژوند کوئ،<br>د برېښنا ګډ بیل، یا ورته اسناد<br>ګډ بانکي حسابونه | |
| | د اصلي غوښتونکي او اولادونو په منځ کې د اړیکو ثبوت لپاره د بېلګې په توګه:<br><br>د زیږون سندونه،<br>د فرزندۍ پاڼې اسناد،<br>د دودیز اختیار په صورت کې د فرزندي ماشوم په اړه د اصلي غوښتونکي لخوا لیکل شوې اغلامیه<br>(د څه شی شاملولو لپاره یادداشت وګورئ) | کولای شئ تایید شوې کاپیانې ولېږئ. د تایید شویو کاپیانو مانا لپاره دویمه پاڼه وګورئ.<br><br>که اصلی غوښتونکی او دوی ښځې یا خاوند له چا څخه پاملرنه کوي چې د دوی خپل اولاد نه وي، او هغوی دې په قانوني توګه په فرزندي اخیستل شوی نه اوسي، نو اصلی غوښتونکی د فورمې باید رسمي اقرار خط یا اعلامیه وړاندې کړي او پکې دې ووایي چې دغه کس ده په فرزندي اخیستی، د اخیستو نېټه، ځای او هېواد چېرته چې دا کار شوی.<br><br>د رسمی اقرار خط لپاره دویمې پاڼې ته مراجعه وکړئ. |
| | د تمویلوونکي یا سپانسر او اصلي غوښتونکي ترمنځ د اړیکو ثبوت د بېلګې په توګه:<br>د زیږېدو کارت یا پېژندپاڼه چې وښیی تاسو له یو پلار او مور څخه یاست. | که چېرې د دې وړاندې کول شوني نه وي، د کډوالو اداره به له تاسو د ډی این ای یا مصاحبې کولو غوښتنه وکړي. |

## نور مهم مالومات

**د طبي معایناتو، فیس او الوتکې لګښتونه**
د راجسترولو /نوم ثبتونې یا استوګنې لپاره کوم ډول لګښت نشته.

که چې کیس افسر ځانګړی شو، امګریشن به د الوتکو ټول لګښت تنظیم او په غاړه واخلي. ستاسو کورنۍ لا اوس کوم ډول طبي درملنو ته اړتیا نه لري.
که استوګنه یې تصویب شوه، امګریشن به یې د الوتکې ټول لګښت ورکړي. خو ځینې وختونه ستاسو کورنۍ باید کوم بل هېواد ته سفر وکړي چېرته چې آی او ایم فعالیت لري. او هغوی به د اعتبار وړ ویزو ته د هغه هېواد اړتیا ولري.

په دې اړه نور مالومات تاسو ته درکول شو.

**هغه ماشومان چې د استوګنې د غوښتنلیک د سپارلو وروسته زیږیدلي دي**

که ستاسو کورنۍ د استوګنې غوښتنلیک لیږلو وروسته د ماشوم خاوندان شول، دغه ماشومان بیا هم په غوښتنلیک کې اضافه کیدای شي.

ستاسو کورنۍ به اړتیا ولري چې د ماشوم د هویت سند تصدیق شوي کاپي ترلاسه کړي، لکه د زیږون سند، او له امګریشن څخه د یوې اضافي فورمې د ماشوم لپاره غوښتنه وکړي. دغه فورمه ډکه کړئ او واپې ستوئ. اکه تاسو ډاډه نه یاست چې څه وکړئ، د مرستې لپاره مور. سره اړیکه ونیسئ.

**د استوګنې په غاړه اخیستل**

که چېرې د استوګنې غوښتنلیک مو ومنل شي، تاسو باید په نیوزیلینډ کې د خپلې کورنۍ لپاره د دوی د لومړیو 24 میاشتو لپاره د استوګنې ځای چمتو کړئ. تاسو اوس د دوی لپاره کور ته اړتیا نلرئ. د غوښتنلیک پروسس ډېره موده نیسي. مګر تاسو اړتیا لرئ چې اوس د خپل استوګنځي پلان په اړه فکر وکړئ - ایا تاسو داسې څوک لرئ چې کور ولري او اجازه ورکړي چې هلته ژوند وکړي؟ ایا تاسو دومره پیسې خوندي کړې چې د کور لپاره پیسې ورکړئ، یا د خپلې کورنۍ لپاره کور کرایه کړئ؟

**د اړوندو یا متکي کسانو شواهد**

امګریشن به داسې شواهدو ته اړتیا ولري چې د ۲۱ کلن یا ډېر عمر لرونکي ماشومان په اصلي غوښتونکي پورې تړاو لري. عامې بېلګې یې، د مالي ملاتړ شواهد، د ماشومانو لخوا د رسمی اقرار خط او زده کړو شواهد شامل دي. دا به امګریشن وروسته بیا وړاندې شي.

متقابلې ارزونې

دا ډېره مهمه ده هغه معلومات چې تاسو امګریشن ته ورکوئ ریښتیا او سم وي، د بیلګې په توګه د نومونو املا او د زیږون نیټې. امګریشن به د سپانسرانو د مهاجرت نیوزیلینډ دوسیې څخه غوښتنه وکړي ترڅو وګوري چې د دوی په لومړني غوښتنلیک کې ورکړل شوي معلومات د هغه څه سره مطابقت لري چې د استوګنې غوښتنلیک یې وایي.

Community Law Waikato Trust 2023